**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پانه: www.unama-afg.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**ښاغلی انتونی بانبوری د ملګرو ملتونو د نړیوال خوراکی سازمان د آسیا د برخی مشر او داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د می د میاشتی لمړی نیټه کال ۲۰۰۸*

**د یوناما خبری کنفرانس**

**یوناما:** سلام زه نظیف الله سالارزي یم او تاسو ته د یوناما د ویاند د دفتر له خوا دې مطبوعاتي غونډې ته ښه راغلاست وایم. زمونږ د ننني کنفرانس میلمه د ملګرو ملتونو د نړیوال خوراکي پروګرام د اسیا لپاره سیمه ییز مشر انتوني بانبوری دی. هغه به تاسو ته په افغانستان کي د خوراکي توکو د بیو په هکله خبري وکړي.

## د ملګرو ملتونو د سرمنشی د ځانګړی استازی سفر کانادا ته

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی کای ایده نن په اوتاوا کي دي، چي د کاناډا د بهرنیو چارو د وزیر ماکسیم بیرنر او د دفاع د وزیر پیټر ګاردن میکی سره وګوري. د جمعي په ورځ د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی به په نیویارک د ملګرو ملتونو مرکز ته ولاړ شي چي هلته به د سرمنشي بانکي مون سره لیده کاته وکړي. د دي غونډو موخه دا ده چي د پاریس د کنفرانس کوم چي به سږ کال د جون په میاشت کي جوړ شي په اړه خبرې اترې ترسره کړي او همدارنګه او د افغانستان د نړیوالو همکارانو سره په دي اړه چي په راتلونکو میاشتو کي څنګه د همغږی هلي ځلي او مرستي د افغانستان د دولت لپاره ګړندی او زیاتي شي خبري وکړي.

## انتوني بانبوری، د نړیوال خوراکي پروګرام سیمه ییز مشر

آغلو او ښاغلو سلام، زه بخښنه غواړم که چیرې تاسو ته د دې له امله چي موږ پرون خپله مطبوعاتي غونډه وځنډوله له کومي ستونزې سره مخ شوي یاست او ستاسو د راتګ څخه مننه.
افغانستان ته زما د سفر موخه: لومړی غواړم چي په هیواد کي د خوراکي توکو د مصونیت اوسنی حالت وڅیړم. دوهم، چي د افغانستان لپاره د نړیوال خوراکي پروګرام د اوسنیو مرستو اغیز و ارزوم، او دریم د افغانستان حکومت، د ملګرو ملتونو د همکارانو او ډونرانو سره پر دې بحث وکړم، چي په راتلونکي کي د بدلیدونکو حالاتو په رڼا کي کومي اقدامات باید ترسره شي.

موږ د دې لاندې حکومتي چارواکو سره ولیدل: د کلیو د بیا رغوني او پراختیا له وزیر ښاغلی ضیا، د ښوونې او روزنې له وزیر ښاغلي اتمر، د کرنې له وزیر ښاغلی رامین او همدرانګه د ملګرو ملتونو له همکارانو، د نړیوال بانک او ځینو نورو سره کتنې ترسره کړې.
موږ کندهار ته دري ورځنی سفر درلود، چي هلته مو د ولایت له والی، د ولایتي شورا د رئیس، د کلیوالي پراختیا د شورا له استازو، د غیر دولتي موسسو د استازو، د کاناډا د ولایتي رغوني د ټیم او د دې سربیره دوه ښوونځي، د لویانو د سواد د زده کړې دوه ټولګي د خواړو د نړیوال پروګرام د ویش مرکز او کوچیانو هستوګنځي مو هم ولید.

د دې غونډو بنسټ دغه ساحوي سفرونه او داخلي بحثونو په اساس نړیوال خوراکي پروګرام ارزونه دا ده، چي همدا اوس د میلیونونو افغانانو د بنسټیزو خوراکي اړتیاوو پوره کول ډیر زیات ستونزمن دي. له بده مرغه دغه حالت د وخت په تیریدو سره له کرکیچن شوي چي زیاتره د بیو د لوړوالی له امله دی. په هیواد کي د پیسو تورم په فبروری کي ۲۲ په سلو کي وو او اوس د خوارو لپاره ۳۰ په سلو کي دي. او دا په دې پورې اړه لري، چي دا د هیواد کومه برخه ده. له ۵۰ څخه ۱۰۰ فیصده د غنمو لپاره دي، ډیری وګري دغه لوړې بیي زغملای شي او حتی ګټه ترې پورته کوي، خو د میلیونونو افغانانو لپاره چي د دې ټولني بې وزله برخه چي د خپل ډیر لږ عاید ۷۰ په سلو کي په خوراکي توکو مصرفوي، نو د خوارو دغه لوړیدنه د دې لامل ګرځي، چي خپلي نورې بنسټیزې اړتیاوې پوره نه کړای شي.

د افغانستان حکومت د ډیرې زیاتي ستاینې وړ دی، چي په نړۍ کي يې د لومړی هیواد په توګه د خوراکي توکو د بیو لوړوالی تشخیص کړ، چي خلک د ستونزو سره مخ دي او په دې لړ کي حکومت د دې ستونزې د حل لپاره قدم پورته کوي. حکومت د ملګرو ملتونو سره یو ځای په جنوري کي ۷۹ میلیونو ډالرو لپاره غوښتنه کړې ده، چي د بیو د لوړوالی د بشري اغیزې سره مقابله وکړي. نړیوال خوراکي پروګرام په دغه غوښتنه کي برخه ۷۷ میلیونه ډالره ده، چي په پوره توګه تمویل شوي ده. دغه مرسته به دوه نیمو میلیونو افغانانو ته چي ۸۵ په سلو کي په ښارونو او پاتي نور یې په کلیوالو سیمو کي اوسیږي ورسیږي.

موږ د دې مرستي اغیز کتنه کوو. د غنمو بیي یو څه را ټیټیږي، خو بیا هم هغه د تیر کال په پرتله ډیرې لوړې دي. دغه کمښت د زیاتو لاملونو له کبله دي، خو په واقعیت کي نړیوال خوراکي پروګرام مرسته ددې یوه برخه ده.

موږ د کندهار څخه بهر د کوچیانو د سیمی څخه لیدنه تر سره کړه او د یو داسی سړي سره مو خبري وکړي چې ویل یې هغه یو وخت شتمن سړي وو او یو شمیر وزي او میښی درلودي. د وچکالی له امله هغه خپله دغه سرمایه خرڅه کړه او اوس په ښار کې د روزانه کار په ډول په کار بوخت دي چې اکثراً کار هم نه موندي. د هغه کورنۍ مجبور دي چې په وچه ډوډي، شلمبی او چایو سره ژوند تر سره کړی. دی اوس د لومړي ځل لپاره د نړیوال خوراکی پروګرام څخه مرسته تر لاسه کړیده – ۱۰۰ کیلو وړه. دغه مرسته به دی ته اجازه ورکړي چې دی خپل محدود عاید د خپلی کورنی پر نورو ضروریاتو باندی ولګوي.
د کندهار د نجونی په یوه ښونځی کې موږ د اووم ټولګي یوه نجلی سره خبري وکړي، هغه یوازی په دی خاطر ښوونځی ته حاضریږی ځکه چې د نړیوال خوراکی پروګرام له خوا د غوړو راشن تر لاسه کوي. یوازی د همدي غوړي په خاطر د ده پلار او مور هغه ښوونځی ته استوي. هغي په خبرو کی موږ ته وویله چې غواړي د کندهار په ښار ډاکټره شی او په داسی ډول هغه کولاي شی ښځینه ناروغی معالجه کړي. کوم خواږه او مرسته چې نړیوال خوراکی پروګرام یې وړاندي کوي د دي نجلی او د هغه کورنی ته بدلون ورکوي او په پایله کې کیدای شی دغه نجلی ډاکټره شی.

خو کوم پروګرام چې حکومت او ملګري ملتونه یې د جنوري په میاشت کې پیل کړي، د جولاي په میاشت کې به پای ته ورسیږي او موږ دي پوښتنی ته ځیر یو چې وروسته به څه پیښ شی. د دي پوښتنی ځواب دا دي چې دا په ټولنه کې بیوزلو خلکو د آسیب پذیری په سطحه، همدارنګه د زراعتی محصولاتو په تولید، سوداګری واردات او سوداګري پالیسی ګانی پوری، چې ډیر کلیدی موضوعات دي، اړه لري.
ورښانه ده چې د زراعتی محصولات تولید هم یو ځای او بل ځای یوه ستره مسله ده او مخکنی شاخصونه، د باران او واوري د لږ ورښت له امله دا ښیی چې د غنمو او غلو دانو محصولات به ډیر ښه نه وي.

په نړیواله سطحه د غنمو او نور خوراکی اساسی توکو د ذیرمو محدودکیدل، د افغانستان په ګډون یو شیمر نور زیات هیوادونو ته خنډونه پیښ کړي. او که چیري د ذیرمو دغه محدودکیدل نور هم دوام وکړی نو افغانستان به د یوي ناوړي وضعی سره مخامخ شی څرنګه چې نور هیوادونه د خپل اړتیا وړ غلو دانو په وارد کولو کې مخامخ شویدي. زه فکر نه کوم چې هیڅ یو اقتصاد دان وکولاي شی نن ورځ ستاسی په مخ کې کښیني او د راتلونکو دریو میاشتو لپاره په کابل او کندهار کې د غنمو د بیو وړاند وینه وکړی. په داسی حال کې چې موږ نه پوهیږو چې په راتلونکی منۍ او د کال په دوهمه نیمایی کې آسیب پذیری به په کومه پیمانه وي، خو کوم شی چې موږ په مطلقه توګه پوهیږو هغه دا دي چې په دغه هیواد کې به په ملیونونو انسانان به آسیب منونکی، د خوړو له امله نا مصونه پاتي شی او وبه نشی کړاي چې خپل اړتیاوي پوره کړي او یو ډول مرستی ته به اړتیا ولري.

زموږ په غونډو کې د حکومتی لوړ پوړو چارواکو، د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازی مرستیال، نړیوال بانک، ډونرانو او نړیوال خوراکی پروګرام سره، پر دغه ټکې باندي اصرار وکړ چې د دغو ننګونو په مقابل کې غبرګون باید یوازی د یو جامع ستراتیژی له لاري چې وکولاي شی د یو اوږد مهالی ننګونی، چې د بیو د جګوالی له امله منځ ته راغلی، تر سره شی، داسی ستراتیژی چې پر کرهنیز محصولاتو باندي پانګه واچوي، داسی ستراتیژی چې د مارکیت سره معامله او د خصوصی سکتور ملاتړ وکړي. او دا چې د نړیوال خوراکی پروګرام او یا بل هر پروګرام له لاري د مرستو ویشل د دي خنډ ځواب نه دي.

زه فکر کوم چې پر دغه مسله توافق شتون لري، موږ مخکی له دي چې ځانګړی استازی سفر ته ولاړ شی هغه سره خبري وکړي. هغه او د هغه مرستیال ښاغلی اسپلاند، د نړیوال بانک کارکوونکی، د هیواد په کچه د نړیوال خوراکی پروګرام د دفتر مشر، حکومتی چارواکی ټول پر دغه خبره موافقه وکړه چې یو جامع ستراتیژی ته کوم چې وکولای شی لنډ مهاله او اوږد مهاله ننګونی سره چې په افغانستان کې د خوړو د نه مصونیت سره مل دی، معامله وکړی، اړتیا شته. داسی ستراتیژی اړتیا لري چې داسی اړخونه ولري چې وکولاي د ډیر بیوزلو، د خوړو له پلوه نا مصونو خلکو سره معامله او چلند وکړي. هغوی ځانګړو مرستو، یو ډول ټولنیز مصونیت ته چې په هغه کې د خوراکی توکو مرسته هم شامله وي اړتیا لري، او دا هغه خلک دي چې نړیوال خوراکی پروګرام د هغوي په هکله اندیښنه لري، او دا هغه خلک دي چې موږ تعهد کړي چې دوي سره مرسته وکړو. نړیوال خوراکی پروګرام د افغانستان د خلکو د ملاتړ په خاطر متحد ولاړ دی، په ځانګړي ډول بیوزلو خلکو سره. موږ به د حکومت سره د هغو د کوښښونو په خاطر چې د خوړو د نه مصونیت د ننګونو په مقابل کې کوي، ملاتړ وکړو کوم چې اوس هیواد ورسره لاس او ګریوان دي.

**یوناما:** د ښاغلی بنبوری او ښاغلی کورسینو څخه په مننی سره، موږ په خوشحالی سره ستاسی د پوښتنو ځوابولو ته چمتو یو، هیله کوم چې خپل ځان او خپله موسسه راوپیژنی.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه

**د افغانستان راډیو تلویزیون:** تاسو وویل چې مرستې د جولای په اخیر کې پای ته رسیږي د دې بودجې څومره برخه حکومت، خوراکي نړیوال پروګرام او نړیوال بانک ته ورکول کیږي؟
**نړیوال خوراکي پروګرام:** د حکومت او ملګرو ملتونو غوښتنه په جنوری کې ۷۹ میلیونه ډالره وه چې د دې ۷۷ یې د خوراکي نړیوال پروګرام لپاره وه. موږ ته توله دغه ۷۷ میلیونه بودجه را کړای شوې او موږ به هغه تر جولای پورې په دې پروګرام کې ولګوو. تر دې وروسته موږ پریکړې ته اړ یو. د حکومت، د ملګرو ملتونو د همکارانو او ډونرانو سره د هغه څه په هکله چې وروسته راځي کار کوو. موږ به د دې وروسته له نورو ډیرو زیرمو ته اړتیا ولرو، موږ د دې پروګرام لپاره ډیر ښه ملاتړ تر لاسه کړی دی. او زه باوري یم چې موږ به ښه ملاتړ د هغه څه په برخه کې چې وروسته یې لاس ته راوړو ولرو. او دا په هغه صورت کې چې موږ له حکومت سره کار ترسره کړو.

**آریانا تلویزیون:** د خوراکي توکو د بیو د لوړولو سره آیا ستاسو مرستې به کمې شي او یا هم تاسو د افغان وګړو سره مرستو ته دوام ورکوئ؟
**نړیوال خوراکي پروګرام:** د مرستو کچه چې د جون او جولای وروسته به برابره شي بیا هم په کرنیزو محصولاتو پورې اړه لري او نښې نښانې شته چې د کمو اورښتونو او واورو له امله به ستونزې موجودې وي او همدارنګه نورې مسئلې چې د بیو په اړه په نړیواله کچه شته او همدارنګه هغه بیې چې په پاکستان کې دي او هغه څخه چې د وارداتو په قابلیت پورې اړه لري د حل لار یوازې د خوراکي توکو مرسته نه ده، په دې کې د مختلفو هیوادونو، ملګرو ملتونو او د ډونرانو د موسسو ګډون ته اړتیا ده. خوراکي نړیوال پروګرام د دې یوه برخه پر مخ بیایي. او زه فکر کوم چې دا یوه مهمه برخه ده او دا به ښه تمویل شي او موږ د میلیونو انسانانو سره مرستې وکړو.

**ایرن:** د بیو لوړنی ارزونه د جنوری په میاشت کې ترسره شوې. له هغې مودې څخه تر اوسه پورې حالات څومره بدتره شوي، تاسو وویل چې تاسو یوازې د ډیرو زیانمننونکو لپاره مرستې برابروې. آیا تاسو فکر کوئ چې دغه مرسته به په هیواد کې زیاتو زیانمننونکو وګړو لپاره د قناعت وړ وي؟
**نړیوال خوراکي پروګرام:** دا یوه ډیره ښه پوښتنه ده. دغه لوړنی ارزونه د ملګرو ملتونو او حکومت له خوا د مقداماتی معلوماتو/دیټا پر بنسټ د جنوری په میاشت کې ترسره شوې ده. موږ تل سره په دې موافق یو که چیرې اضافه معلومات په لاس راشي، موږ هڅه کوو چې د هغو معلوماتو په اساس خپل پروګرام برابر او جوړ کړو. له جنوری څخه په را دیخوا بیې په ورځ په ورځ مخ په لوړیدو دي، خو د دې سره سره په ځینو پیښو په دې وروستیو کې بیې په ځرګند ډول په کمه اندازه ښکته راغلې. کله چې موږ په کندهار کې وو، والی د هغو خلکو لپاره چې لا تر اوسه پورې نه دي را رسیدلي د اضافي خوراکي توکو غوښتنه وکړه، تیره ورځ د کلیو د بیا رغونې او پراختیا له وزیر ښاغلی ضیا سره په غونډه کې، هغه هم د کار په مقابل کې د خوراکي توکو ورکولو تر پروګرام لاندې د لیریو پرتو سیمو لپاره د اضافه خوراکي توکو غوښتنه وکړه. موږ دغه غوښتنې په ورین تندې قبلوو موږ له حکومت سره له نږدې کار کوو څو دا ډاډمن کړای شي چې موږ تولو هغو وګړو ته رسیږو څوک چې د زیانمننونکو وګړو په کټګورۍ کې راځي. بله ملاحظه دا ده چې دلته باید د زیانمنکیدو د شاخص تر منځ یوه کرښه راکړل شي. موږ نه شو کولای چې هر څه ترسره کړو، هغه کسان چې د دې کرښې څخه لاندې دي او هغوي چې مرستې تر لاسه کړي دي ډیری به یې ستونزمن حالت ولري او دی ته به اړ وي چې د دې لوړو بیو سره خپل ځان عیار کړي.

**ال انډیا راډیو:** زه دوه پوښتنې لرم، یوه یې د خوراکي توکو د مصونیت د ډیرې زیاتې بې باوری فضا ده، آیا تاسو کومه نوی غوښتنه به ترسره کړئ؟ او دوهمه دا چې دلته ځینې داخلي بیځایه شوي کسان دي چې د ژړی په ولسوالی کې او نه غواړي چې بیرته شمال ته ولاړ شي، آیا د خواړو نړیوال پروګرام غواړي چې دغو کسانو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، ځکه چې هغوي نه غواړي هلته بیرته ولاړ شي.
**نړیوال خوراکي پروګرام:** حکومت او ملګری ملتونه یوه غوښتنه کړې ده، موږ په فعاله توګه خپله غوښتنه کړې او د هغې لپاره بودجه راغلې ده. او موږه خپله ژمنه چې د دوه نیمو میلیونه افغانانو سره مو کړې ده ترسره کوو. په دې باندې زموږه تمرکز دی. دغه دوه نیم میلیونه شماره لیږ څه سمه شوې، ځکه چې اوس

حالاتو بدلون موندلی دي، چي دې ته باید زموږ له خوا توجه وي. هغه څه چي په ژیری کې د داخلي بې ځایه شویو وګړو په هکله دي، داخلي بې ځایه شوي وګړي ډیر زیانمنونکي وګړي دي، چي نړیوال خوراکي پروګرام دې ته ژمن دي چي د دې پروګرام په لړ کې ورسره مرسته وکړي. هر داخلي بې ځایه شوې کس چي د حکومت او د نړیوال خوراکي پروګرام څخه یې په ګډه تشخیص شوي وي موږ به ورسره مرسته وکړو.

**کلید راډیو:** دلته د هغو شمیرو تر منځ چي د حکومت له خوا د ۵۰ میلیون ډالرو چي د خوراکي توکو د رانیولو په برخه کې دي او هغه شمیرې چي تاسو یې یادونه کړې ده ۷۷ میلیونه ډالر دي او تاسو تر لاسه کړي دي. همدارنګه ستاسو د هلو ځلو او هغو مرستو سره سره چي خلکو ته مو رسولي دي موږ کوم ډرامتیک بدلون د خواړو د مصونیت په برخه کې د افغان وګړو لپاره نه دی لیدلی. زما د پوښتني دوهمه برخه دا ده، په افغانستان کې د خوراکي توکو کمښت او هغه بندیز چي په خوراکي توکو د ګاونډیو هیوادونو څخه راغلی دی، تاسو څه ډول تدابیر نیسئ، څو دغه بندیزونه له منځه یوسئ؟
**نړیوال خوراکي پروګرام:** ۵۰ میلیونه ډالر هغه رقم دی، چي حکومت غواړي د خوراکي توکو د رانیولو لپاره یې ولګوي، چي دا د ۷۹ میلیونو ډالرو څخه چي حکومت او ملګرو ملتونو یې غوښتنه کړې ده، په پوره توګه جلا دي. ۵۰ میلیونه ډالر د حکومت د بودجې برخه ده چي حکومت به د خپلو میکانیزمونو له لارې مصرف کړي، تر څو چي هغه د خپلو میکانیزمونو له لارې و ویشي، چي په پوره توګه د ملګرو ملتونو څخه جلا دي. نړیوالی خوراکي پروګرام ۷۷ میلیونه ډالر د بیلا بیلو خوراکي توکو لپاره تر لاسه کړي دي، چي د نړیوال خوراکي پروګرام له لارې واستول شي. دا د هغو وګړو لپاره دي چي د بیو د لوړوالی له امله نیغ په نیغه اغیزمن شوي دي، دوي زیات زیانمنونکي وګړي دي.

د دې پوښتني په اړه چي په هیواد کې د خوراکي توکو د مصونیت په اړه څه تغییر نشته، د خوراکي توکو د مصونیت د ستونزو د حل لاره د خوراکي توکو مرسته نه ده، دا د کرنې په برخه کې پانګونه، ښه سړکونه، ښه پرمختللی مارکیټو او د سوداګری ښې پالیسي دي. نړیوالی خوراکي پروګرام په دې برخه کې مصروف نه دی، خو موږ د شپږو میلیونو څخه زیاتو افغانانو سره په دې هیواد کې مرسته کړې ده، زه تاسو دې ته رابولم، چي لاړ شئ او د دغو ۶ میلیونو خلکو سره وغږیږئ، چا سره چي موږ مرسته کړې ده او ور څخه وپوښتئ چي د دغو مرستو له لارې یې ژوندون بدلون موندلی او که نه، ځکه چي زه ځم او له هغوي سره غږیږي او په دې پوهیږم چي زموږ د مرستو له امله د هغوي په ژوند کې ډیر زیات بدلون راغلي دي. د دې لپاره چي ستاسو وروستی پوښتني ځواب و وایم، هغه په صادراتو بندیز دی. د ملګرو ملتونو سرمنشي دوه ورځي وړاندې د ملګرو ملتونو د ټولو موسسو د ټولو مشرانو، د نړیوال بانک رئیس او داسي نورو سره په سویس کې ولیدل. هغوي هلته وویل، چي دا به غوره وي چي هیوادونه بندیزونه لیرې کړي، ځکه چي د دې له امله د خوراکي توکو به بازارونو کې ګډوډي راځي. هغه څه چي د نړیوال خوراکي پروګرام پورې دلته اړه لري موږ د دې سیمه د هیوادونو سره خبرې کوو، څو چي د بشر دوستی په چوکاټ کې د دغو بندیزونو په برخه کې استثنا قایل شي، څو هغوي د خواړو نړیوال پروګرام ته د دې امکان برابر کړي چي د بشر دوستانه موخې لپاره خوراکي توکي را ونیسي. دلته دوه لارې شته چي دواړه یې په دې اغیز لري.

**فردا تلویزیون:** تاسو وویل چي میلیونونه افغانان د بې وزلی تر کرښې لاندې دي، که چیرې دغه حالت دوام ومومي، آیا تاسې فکر نه کوئ چي موږ به له بشري ناورین سره مخامخ شو. او همدارنګه تاسو د ستراتیژی د بدلون په هکله خبرې وکړې، آیا تاسې فکر کوئ، چي حکومت داسي یوه ستراتیژي جوړه کړې ده، چي د خواړو د عدم مصونیت په برخه کې مرسته وکړي؟
**نړیوال خوراکي پروګرام:** نړیوال خوراکي پروګرام، ملګري ملتونه، ډونران او په تیره بیا حکومت موږ ټول دې ژمن یو، چي د بشري ناورین مخنیوی وکړو، دا زموږ د هلو ځلو موخه ده. موږ هڅه کوو چي حالت ښه او د ناورین مخه ونیسو. زه باور لرم چي د حکومت تر مشرتابه لاندې او د ډونرانو د قوي مرستي او د ملګرو ملتونو د فعال کار په وسیله به موږه د بشري ناورین مخنیوي وکړو، خو موږ ټول باید خپله برخه کار تر سره کړو، دا به اسانه نه وي، دا پیسو او ډیر کار ته اړتیا لري.
هو، زه باوري یم چي حکومت به دغه رنګ یوه ستراتیژی جوړوي، دا د ټولو بحثونو موضوع وه چي ما درلودل، افغان حکومت دې مسئلي ته په نړی کې تر ټولو د مخه پاملرنه را وړوله. هغوي په دې اغیز وپوهیدل چي په خلکو یې لري او ټول ستر وزارتونه چي ما ور سره خبرې کړي، دې موضوع ته متوجه دي. زه باوري یم چي حکومت دې ته ژمن دي او ملګرو ملتونه هم د خپلي ونډې د ترسره کولو لپاره ژمن دي. زه ډونرانو په اندیښني پوهیږي، موږ یو ډیر سخت کار تر مخه لرو، خو موږ باید دغه کار تر سره کړو.
ډیره ډیره مننه